
AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

سلام خان ۲۰۱۱/۰۶/۱۷

# افغانستان د شانګهای ټولنې لپاره یوه مهمه موضوع ګرځیدلې ده

د شانګهای تړون په ۲۰۰۱ م کال کې د روسیې، چین، قزاقستان، قرغزستان، ازبکستان او تاجکستان په غړیتوب د سیمه ییزو مرستو د پراخوالي په موخه جوړ شو، چې اوسمهال هند، پاکستان، ایران او مغولستان هم پکې د څارونکو غړو په توګه ګډون لري ،په دې تړون کې نوي بدلونونه راڅرګندیږي، د سیمې دوو لویو او پیاوړو هېوادونو (هند او پاکستان) په دې تړون کې د دایمي غړیتوب غوښتنه کړې او ویل کیږي چې ایران هم غواړي په دې تړون کې د دایمي غړي په توګه برخه واخلي.



د دغه سازمان لسمه غونډه دچهار شنبې په ورځ د غبرګولې په ۲۵مه، د قزاقستان په پلازمېنه استانه کې د شانګهای د همکارۍ سازمان د مشرانو په ګډون جوړه شوه. د دغې غونډې مشري د قزاقستان جمهوررئیس نورسلطان نظربایوف کوله او لومړنی وینا وال یې د چین جمهوررئیس هوجین تاو و، دچین جمهوررئیس په دې غونډه کې په خپلې وینا کې په افغانستان کې د امنیت او ثبات ټینګښت د ټولې نړۍ لپاره ګټور وباله او ټینګاري وکړ چې د شانګهای د همکارۍ سازمان او د هغه غړي هېوادونه باید د تروریزم او نیشه یي توکو پرخلاف د ګډې مبارزې په لاره کې له افغانستان سره خپلې همکارۍ همغږې او له پخوا زیاتې پراخې کړي. هوجین تاو وویل: افغانستان د شانګهاي د همکاریو دسازمان د غړو هېوادونو ښه ګاونډی دی چې د هغه اقتصادي پراختیا کولای شي د شانګهای سازمان په پیاوړتیا باندې ښه اغېز وښندي، له دې امله د هغه امنیتي او اقتصادي مسلې باید د دغه سازمان په لومړیتوب کې ځای ولري. ورپسې د قرغزستان جمهوررئیس روزه اوتان بایوف خبرې وکړې، د شانګهاي د همکاریو دسازمان له غړو هېوادونو څخه یې وغوښتل چې په افغانستان او سیمه کې دې د تروریزم او نیشه یي توکو پرخلاف د ګډې مبارزې او په افغانستان کې د اقتصادي پراختیا لپاره دې یو ګډ بنسټ جوړ کړي چې په دغو برخو کې له افغانستان سره مرسته او همکاري وکړي.
بیا د فدراتیفې روسیې جمهوررئیس دیمیتري مد ویدوف د خپلې وینا په ترڅ کې په افغانستان کې د امنیت ټینګښت ته داشارې په ترڅ کې وویل: د سیمې او نړۍ په کچه زموږ لپاره په افغانستان کې د امنیت او ثبات ټینګښت تر ټولو مهمه موضوع ده چې د شانګهاي سازمان باید هغې ته په خپل لومړیتوب کې ځای ورکړي. ده وویل: افغانستان د شانګهای د همکاریو دسازمان د غړو هېوادونو ګاونډی دی چې د هغه امنیت او ثبات د دغه سازمان پر غړو باندې نیغ په نیغه اغیز کولای شي. د تاجکستان جمهوررئیس امام علي رحمان او د ازبکستان جمهوررئیس اسلام کریموف هم په دې غونډه کې خبرې وکړې او وې ویل:
افغانستان په تیرو لسو کلونو په بیلابیلو برخوکې دیادونې وړ پرمختګونه کړي دي چې دغو پرمختګونو ته په پاملرنې سره د دغه هېواد د ستونزو حل یوازې له پوځي لارې ممکن نه دی، باید د هغه ملکې بنسټونو ته پاملرنه وشي او په دې برخه کې دې د شانګهاي د همکاریو سازمان غړي هېوادونه خپله ونډه ترسره کړي. ورپسې د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهورریس حامدکرزي وینا وکړه، وې ویل د ډیرې خوښۍ ځای دی چې د سیمه ایزې سولې، امنیت او ثبات ټینګښت ته ژمن د شانګهای د همکاریو دسازمان د غړو هېوادونو د مشرانو په لسمه غونډه کې ګډون کوم. حامدکرزي د قزاقستان هېواد د جمهوررئیس نور سلطان نظربایوف دتاوده هرکلي او میلمه پالنۍ له امله مننه وکړه، اوهیله وکړه چې د ده په مدبرانه مشرۍ به دغه غونډه په بریالیتوب سره سرته ورسیږي. د افغانستان جمهوررئیس په هېوادکې د سولې او پخلاینې بهیرته د اشارې په ترڅ کې وویل:

د افغانستان حکومت له هغو طالبانو سره چې له تروریستي ډلو خپله لاره بیله او د سولې له بهیر سره یوځای او د افغانستان اساسي قانون ومني، خبرې کوي او هیله لري چې د شانګهای د همکاریو دسازمان غړي او ناظر هېوادونه په دې لاره کې له موږ سره خپله همکاري ونه سپموي. حامدکرزي زیاته کړه: موږ هڅه کوو چې د ملګرو ملتونو له تورلیست څخه د هغو طالبانو نومونه لرې کړو چې د سولې او پخلاینې په بهیرکې ګډون او د امنیت په ټینګښت کې له موږ سره مرسته کوي. د افغانستان جمهوررئیس په دې غونډه کې له نړیوالو ځواکونو څخه افغان ځواکونو ته د امنیتي مسوولیتونو د سپارلو بهیرته د اشارې په ترڅ کې وویل: موږ تصمیم لرو چې د۲۰۱۴ میلادي کال ترپایه


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پورې افغان ځواکونه د ټول هېواد دامنيت د ساتنې مسووليت په خپله غاړه واخلي او په يوازيتوب سره خپله خاوره وساتي. حامدکرزي د امريکا او افغانستان ترمنځ د ستراتيژيک تړون د لاسليک کولو موضوع ته اشاره وکړه او وې ويل: افغانستان له امريکا او ناټو سره په دوه اړخيزو او څو اړخيزو خبروکې د سيمې او ګاونډيو هېوادونو اندېښنې په پام کې نيولې دي او هيڅکله به هم د هغه څه ملاتړ ونه کړي چې د سيمې او ګاونډيو هېوادونو امنيت ته خطر پيښ کړي. د هېواد جمهوررئيس په دې غونډه کې د شانګهای د همکاريو دسازمان غړو هېوادونو ته بلنه ورکړه چې د کانې زيرمو د راسپړلو په برخه کې دې په افغانستان کې پانګه واچوي.
ده وويل:
افغانستان ترځمکې لاندې بې شمېره کانې زيرمې لري چې په راسپړلو سره به يې زموږ سيمه د نړۍ پر يو ډېر مهم اقتصادي مرکز بدله شي. حامدکرزي د شانګهاي د همکاريو دسازمان د غړو هېوادونو مشرانو ته په خطاب کې وويل: افغانستان د شانګهاي د همکاريو دسازمان له غړو هېوادونو سره ژورې فرهنګي، اقتصادي او تاريخي ريښې لري چې د همدغو ريښو په پام کې نيولو سره افغانستان په تيره لسيزه کې خپلې دوه اړخيزې اړيکې د شانګهاي د همکاريو دسازمان له غړو هېوادونو سره پر ټينګښت باندې متمرکزې کړې وې.
ده، وويل:
افغانستان په تېرو کلونوکې په دغه سازمان کې د ميلمه په توګه ګډون کاوه ، نن غواړو چې د يو شمېر نورو هېوادونو په څېر افغانستان هم په دغه مهم سازمان کې د ناظر په توګه ومنل شي. د يادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د روسيې، چين، قزاقستان، تاجکستان، ازبکستان او قرغزستان هېوادونه د شانګهاي د همکاريو د سازمان د اصلي غړو هېوادونو، ايران، هندوستان او پاکستان د ناظرو هېوادونو په توګه برخه اخيستې وه. د شانګهاي د همکاريو دسازمان د غړو هېوادونو د مشرانو يوولسمه غونډه به د چين په هېواد کې جوړه او مشرتوب به يې د دغه هېواد دجمهوررئيس هوجين تاو په غاړه وي.

ددې تړون اوسني غړي عمده خپلمنځي اختلافات هم لري، خو هغه نوي هېوادونه چې په دې تړون کې يې د غړيتوب غوښتنه کړې، که يې غوښتنه ومنل شي، نو په دې تړون کې به د خورا لوی اختلاف لرونکي هېوادونه را يو ځای شي. هند او پاکستان ديوه اوبل سره پراخې ستونزې او اختلافات لري، دغه راز هند او چين هم پراخې ستونزې او اختلافات لري، ددې ترڅنګ د پاکستان او روسيې اړيکې هم تر ډېره ښې نه دي، خو پاکستان او چين او دغه راز هندوستان او روسيه پياوړې اړيکې لري.داسې ښکاري چې په دې تړون کې به د غړيتوب په موخه د هند او پاکستان غوښتنه ومنل شي او که دا کار وشي، نو شانګهای تړون به د نړۍ لومړی تړون وي، چې څلور اټوم لرونکي قدرتونه ( روسيه، چين، هند او پاکستان) په کې را يو ځای شوي وي. له شک پرته چې که د تړون غړي هېوادونه په رښتنې ډول يو له بل سره همکاري وکړي، نه يوازې په سيمه کې، بلکې په ټوله نړۍ کې په مختلفو ساحو کې تاثيرات اچولی شي .

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ